# د رحمان بابا د جمال تصور

# Concept of Aesthetics of Rahman Baba

Mohammad Haroon [1]

The poetry of Rahman baba has the best combination of eastern and western aesthetics. Various ideas and thoughts about aesthetics have been explained here. This research paper have the theories of aesthetic about Rahman baba poetry like;- As objective and subjective theory, as will as some aesthetic ideas as aesthetics wonder and aesthetics observation.

د حسن او ښکلا د مظاهرو، مشاهداتو ، نظریاتو او فنون لطیفه مطالعې او علم ته جمالیات وئیلے شي ـ د نړۍ د مختلفو وګړو او قومونو د نقطه نظر مطابق چې د حسن کوم تعریف شوے دے ـ هغه اکثر د یو بل نه جدا دے ، د شاعرانو ادیبانو جدا ، د صوفیانو بېل د عقلیت مادیت او روحانیت د نظرئې د منونکو هم خپل جدا خیال دے ـ د تصوریت د مکتب فکر خاوندانو حسن یو "تصور" اوبللو ـ مادیینو د جسماني تناسب ، اعتدال او توازن ته د حسن و جمال نامه ورکړه ـ د یونان فلسفیانو حسن ته "خیر محض" اووئیلو ـ او څۀ مفکرینو ورته د افادیت په نقطه نظر د حسن نامه ورکړه یعني چې کوم څیز د بني نوع انسان په خیر ښېګړې راتلے شي او فائده مند وي هغه حسین دے ـ د رومیانو په نزد د تناسب،عظمت او طاقت نوم حسن دے او چا لطیفه فنون (مصوري ، شاعري ، موسیقي وغیره) ته حسن اووئیلو ـ

په هر حال د حسن که هر څومره تعریفونه شوي دي نو یو هم پکښې داسې جامع نشته چې نیمګړتیا دې نۀ محسوسوي ـ د حسن جامع تعریف صرف قرآن پاک کړے دے چې حسن هغه څیز دے چې انساني حواسو او زړۀ ته خوشحالي ورکوي ـ حسن او سرور دواړه د یو حقیقت دوه اړخونه دي ـ حواسو ته تسکین ورکونکے څیز حسن دے ـ چې ددې معروضي اړخ دے ـ دې څیز ته زړۀ سُرور وائي ـ یعني په موضوعي لحاظ ددې تعلق د زړۀ سره دے ـ د قرآن د نقطه نظر مطابق

1 Ph.D Scholar Department of Pashto UOP

حسن معروضي هم دے او موضوعي هم دے ـ حسن يو مطلق او اضافي جمالياتي قدر دے چې په حواسو او قلب سره ئې ادراک کېږي ـ

د حسن دوه غټې څانگې دي :جمال او جلال۔

جمال همېشه په نرمو ، نازکو مهينو او ورکوټو څيزونو کښې موندے شي ـ او جلال په سختو زيگو او لويو څيزونو کښې موندے شي ـ مغربي مفکرين نزاکت ، لطافت او دلربائي د جمال صفت گڼي ـ او عظمت او رفعت د جلال صفات تصور کوي ـ د قرآني نقطه نظر مطابق جمال او جلال دواړه د حسن اړخونه دي د جمال خاصيت رحمت ، نزاکت او نرمي ده او د جلال خاصيت قوت ، او جبروت دے ـ په جمال کښې لطف ، يخوالے ، نرمي ، خُمار ، سُکون ، اطمينان ، پاکوالے ، کيف و سُرور او حيرت وي ـ او په جلال کښې هيبت ، عظمت ، رُعب، شان و شوکت ، بې قراري ، رفعت او لوړوالے وي ـ همدغه جمال او جلال که مونږ الوهي حسن ته منسوب کړو نو هم د ازلي حسن د رحم و کرم مهرباني او قهاريت جباريت د شان څرگندونه به ترې کېږي ـ او که د حضرت انسان د سيرت د جمال او جلال طرف ته ئې منسوب کوو نو د يو مردِ مؤمن د پاره دواړه د هغۀ د شخصيت په بشپړتيا ، جامعيت او کامليت دلالت کوي ـ او که دغه جلال او جمال مونږ د کائناتو ، نباتاتو، جماداتو او حيواناتو حسن ته هم منسوب کوو نو د فطرت د حسن په بنيادي عناصرو کښې هم دغه جلال او جمال غورځنگونه وهي ـ که د سپوږمۍ په رڼا او ستورو په پړقا کښې جمال دے نو د نمر په پلوشو کښې د جلال صفت دے ـ که د سحر په خوږو بادونو او د سپرلي په گلونو او خوشبويانو کښې د جمال وصف دے نو په طوفانونو ، دريابونو او سحرائي سېلابونو کښې جلال دے ـ که په اٰواز کښې لطافت ، نزاکت ، خوږوالے او نرمي وي نو جميل به بللے شي او که سخت والے ، سپوروالے او تريخوالے پکښې وي نو جليل به بللے شي ـ

په ادب کښې به په بزميه کلام او غزل کښې جمال وي نو په رزميه او رجزيه کلام کښې به د جلالي صفاتو او جذباتو عکاسي شوې وي ـ

وړاندې مونږ د حسن ، د جمال او د جلال تعريفونه اوکړل ـ او اوس به د رحمان بابا د جمال د تصور په حقله په دې مقاله کښې په تفصيلي توگه بحث کوؤ ـ

د پښتو ادب په چمن کښې خوشنوا باګرامي بلبل رحمان بابا هم د حسن و جمال نغمې او سندرې وئيلي دي ـ هغۀ د مجازي او حقيقي حسن دواړو د موجودګۍ قائله دے په جمالياتي نظريو کښې موضوعي نظريه ، معروضي نظريه د ترتيب او توازن ، وحدت جمال او د اظهاريت نظريه په نظر رائحي ـ د هغۀ په کلام کښې د جمالياتو حظ او انبساط د هغۀ د مشرقي جمالياتو غمازي کوي ـ جمالياتي سوز او سرور او جمالياتي حيرت هم په موضوعيت انحصار لري ـ او د هغۀ په کلام کښې په نظر رائحي ـ رحمان بابا د حقيقي حسن د حقيقي نظرئې او نوي نوي شان د ظهور قائله دے ـ خپل جمالياتي مشاهداتو کښې د ذوقي ، مشامي او بصري مشاهداتو تذکره کوي ـ قبح او بدرنګي هم حسن ګڼي او کله چې د ماديت نه معنويت ته جمالياتو الوت شوے دے نو بيا خو ښځي په حسن کښې د بدرنګۍ د ذره ګنجائش هم قائله نۀ دے ـ د يوناني پوهانو په همنوايۍ کښې د حسن "همه خېر" (All Goodness) د نظرئې قائله دے ـ په مجازي حسن کښې په کړۀ وړۀ کښې تناسب ، لطافت او سراپا نګارۍ په وصف ئې د خپل ذوق جمال تسکين کړے دے ـ په مجازي حسن کښې ئې د ځنې جلالي څيزونو د تشبيهاتو په رڼا کښې د جلالي حسن اغېزې ليدے شي ـ په کثرت کښې د وحدت د حسن يا وحدة الوجودي حسن هم ادراک کوي ـ کائنات د ازلي حسن د نُور پلوشې ، تجليات او مظاهر ګڼي او هم په دغه معروضاتو کښې د مابعدالطبيعاتي حسن تماشه کوي ـ د جمالياتي لمحاتو تذکره هم کوي په کوم چې هغۀ ته روحاني او جمالياتي انبساط ملاوېږي ـ د رحمان بابا جمالياتي افکار د مشرقي او مغربي جمالياتو يو ښائسته امتزاج دے ـ

## موضوعي نظريه

د حسن د موضوعي او داخلي نظرئې منونکي وائي چې حسن په حقيقيت کښې د انسان د ذهن ، تخيل او نظر پېداوار دے او ددې دارومدار په انساني مشاهده دے ددې منونکي د يو ښکلي څيز د جمالياتي قدر نه انکار کوي ـ چې هېڅ يو څيز هم د ښائست خوبي او جوهر نۀ لري بلکې دا صرف د ښکلي زړۀ ، احساس او جمالي نظر هر څۀ ښائسته کړي دي ـ مشهور جمالياتي عالم هيچسن هم وئيلي وو چې حسن صرف زمونږ دننه يو تصور دے ـ رحمان بابا د حسن په حقله دغه جمالياتي نقطه نظر او تصور هم لري او وائي :

مخ که بې مینې څوک ستائي ستایه نۀ شي
د ممدوح له قدره چا زده بې مداح 1

یو بل ځاے کښې د موضوعیت د رجحان عکاسي داسې کوي ـ

مراد له تورو سپینو واړه دلبري ده
موقوف نۀ دے دغه کار په تور او سپین 2

په رحمان د ښائسته ؤ قدر ډېر دے
د طبیب له قدره چا زده بې رنځوره 3

د حسن موجودګي ، وقار ، قدر و منزلت او عظمت صرف او صرف د عاشق په عشق او جمالیاتي ذوق منحصر ګڼي ـ

## معروضي نظریه

ددې فلسفې او نظرئې له مخه هر ښکلے څیز جمالیاتي قدر لري ،د ښکلا یو صفت او جوهر لري پخپله ښکلے وي که څوک ورته ګوري او که نه که څوک ئې ستائي او که نه ـ خو چې یو څیز ښائسته وي نو ددې د ښکلا د حقیقیت نه انکار کول نمر په ګوته پټول دي ـ رحمان بابا د حسن معروضي حقیقت هم تسلیموي ـ

د هغو چې خداے کمال حسن روزي کړه
هېڅ نقصان ئې د منکر په انکار نۀ شي 4

## د وحدت جمال نظریه

دې نظرئې ته د موضوعیت او معروضیت نظریه هم وئیلے شي ـ د جمال په باب کښې محتاطه نظریه هم د وحدت جمال نظریه ده چې حسن د موضوع او معروض د ګډون نتیجه تسلیم کړے شي ـ او بغېر ددې ئې بله هېڅ لار نشته ـ

د رحمان بابا په شاعرۍ کښې د دواړو نظريو ترجمان شعرونه شته ـ څيزونه هم ښکلي ګڼي او ددغه حسن د ادراک او احساس د پاره د حواسو ضرورت هم ضروري تسليموي ـ د معروضي نظرئې مطابق هغه د ښکلا خبره په داسې شکل کښې کوي ـ چې د حسن نه د انکار امکان نۀ پريږدي ـ وائي چې :

د هغو چې خدائے کمال حسن روزي کړه
هيڅ نقصان ئې د منکر په انکار نۀ شي 5

يعني حسن په هر صورت کښې حسن دے که څوک ترې انکار کوي نو په حسن کښې پرې څۀ کمے نۀ شي راتلے ـ ولې ددغه خارجي حسن د حِس کولو د پاره په داخلي قوت او جمالياتي حِس هم زور اچوي ـ او دغسې ورسره داخلي اشتياق هم شريکوي ـ د چا چې جمالياتي حِس تېز وي او اشتياق ئې زيات وي نو دومره به ئې د حسن معيار هم اوچت وي ـ نو ځکه رحمان بابا فرمائي :

ستا په مخ کښې چې حساب د جمال نشته
ځکه ماسره د صبر مجال نشته 6

يعني ستا حسن چې بې حسابه دے نو زما اشتياق هم بې حسابه دے ـ او دغسې د دواړو نظريو (موضوعي او معروضي) اختلاط شوے دے ـ د موضوعي نظرئې مطابق حسن د پاره د حواسو ضرورت لازمي ګڼي او بيا په حواسو کښې هم د ليدلو او اورېدلو حواس (قوت باصره، قوت سامعه) زيات اهم ګڼي ـ يعني حسن چې انسان ته کوم جمالياتي مسرت ورکوي نو هر څو که دا مسرت د حواسو مرکز ته رسي خو بيا هم پکښې د سترګو او غوږونو کار او عمل زيات وي ـ په دې وجه رحمان بابا د سترګو د ضرورت ذکر داسې کوي :

څو دې دوه سترګې غړېدي په جهان کښې
ننداره په هر ساعت د خپل نګار کړه 7

او بيا د اورېدلو په ذريعه د حسن نه د مسرت اخستلو ذکر داسې کوي :

هر مطرب چې غوږ ئې تاؤ که د رباب
په دا تاؤ کښې زما زړۀ کاندي کباب 8

غرض دا دے چې رحمان بابا د موسيقۍ او ترنم نه څکه خوند او اثر اخلي چې دا ښکلي دي ـ نو دغسې د حسن د حِس کولو دپاره د حواسو او بيا په خصوصي توګه د سترګو او غوږونو ضرورت هم لازمي دے ـ دا په اصل کښې د موضوعي نظرئې دلالت کوي ـ يعني رحمان بابا د حسن د وحدت جمال د نظرئې هم قائله دے ـ او هم دا نظريه د ټولو نه جامع او افاقي نظريه ګڼلے شي ـ

## جمالياتي حظ او مسرت

کوم څيز چې مونږ ته بې غرضه او بې لوثه خوشحالي بخښي نو هغه جمالياتي حظ بللے شي ـ که دغه څيزونه يا تصورات مادي وي او که روحاني وي خو چې انبساط ترې حاصلېږي خو يو واضح فرق خامخا شته او هغه دا چې د مادي تصوراتو حظ او انبساط د لږ وخت د پاره وي او معيار ئې هم کم وي او د روحاني تصوراتو مسرت د اعلیٰ معيار وي او دائمي وي ـ رحمان بابا د حسن له لوري د زلفانو په خوشبو د باد نسيم په ډالۍ لکه د مشکو او ګلابو جمالياتي انبساط حاصلوي:

چې نسيم ئې د زلفانو راپېدا شي
درست مې ډوب کاندي په مښک و په ګلاب 9

په تصوف کښې سماع د روحاني فيوضياتو او د حسنِ مطلق د انواراتو د ادراک لويه وسيله وي ـ زيات صوفيان ددې نه روحاني کېف و سرور حاصلوي او دغه د معرفت سبب ګرځي ـ په عرفاني مسلک کښې د روحاني او جمالياتي کېف و سُرور لويه ذريعه سماع ده ـ د خپل قلندري او سرمدي مزاج له کبله د سماع د روحاني او جمالياتي کېف و سُرور نه داسې نشه او مست شي چې د ډېر اشتياق له کبله ګرېوان څيري کړي او د بې خودۍ عالم ته لاړ شي ـ خپل دغه کېفيات او جمالياتي واردات داسې بيانوي :

چې سامع ئې په نغمه په ترانه شم
دیوانه شم ګرځوان څیري مست خراب 10

## د حسن د اظهاریت نظریه

خالق کائنات پخپله د حسن سر چینه ده او حسن په هر حالت کښې ځان ښکاره کول غواړي ـ د الله پاک خوښه شوه چې زما حسن دې څرګند شي نو خپله خدائي ئې ښکاره کړه ـ ددې دپاره چې زهٔ دې اوپېژندے شم ـ په دې سبب ئې محبت پیدا شو چې مخلوقات دې پیدا کړے شي نو مخلوقات ئې پیدا کړل ـ ځنګه چې الله تعالیٰ پخپله حسین دے نو دا هم لازمه خبره ده چې مخلوقات به ئې هم ښکلي پیدا کول ـ نو ځکه مونږ وئیلے شو چې الله پاک د ډېرې مینې له کبله مخلوقات پیدا کړل مطلب دا دے چې د کائناتو د پیداوښت وجه د الله پاک عشق او مینه وه ـ رحمان بابا دغه تأثر ته داسې شعري جامه اغوستې ده :

دا جهان دے خدائے له عشقه پیدا کړے
د جمله ؤ مخلوقاتو پلار دے دا 11

د قرآن د اٰفاقي تصور له مخه حسن د عشق نه زیږېدلے دے ـ مطلب دا دے چې عشق ډېر غالب شي نو حسن زیږوي ـ ددې نه وړاندې چې مونږ د الله پاک د حسن ښکاره کېدو خبره اوکړه روستو ددې نه د اظهاریت نظریه جوړه شوه او په مشرقي او مغربي جمالیاتو کښې پرې ډېر زیات بحثونه اوشول ـ خو حقیقیت دا دے چې ددې نظرئې وروِمبے مأخذ دا حدیث قدسي دے مفهوم ئې داسې دے چې زهٔ د حسن یوه پټه خزانه وومه ، ما اوغوښتل چې زما خدائي دې څرګنده شي نو مخلوقات مې پیدا کړل ـ له دې نه دا ثابته شوه چې حسن به خامخا څرګندیږي ځکه چې حسن ظهور غواړي حسن په پردو او حجابونو کښې نهٔ پټیږي:

رحمان حسن د یار مینې په پرده کښې
نهٔ پټیږي نُور د شمعې په فانوس 12

## د حقیقي حسن حرکي ، ارتقائي او نوي نوي شان نظریه

دا نظریه د جمالیاتو د اسلامي رجحان غمازي کوي ـ ځکه چې حسن یو ابدي حقیقیت دے یو خو حسن جامد او ساکن کېدے نۀ شي حرکي او ارتقائي حېثیت لري ، بدلېږي رابدلېږي ، په نوي نوي رنګونو ، هېئتونو او پېکرونو کښې ظهور کوي ـ که هر څومره څیزونو له فنا راشي نو رادې شي ـ څیزونه فنا کېږي خو حسن د ابدیت او دوامیت په صفت موصوف هېڅ کله فنا نۀ زغمي ـ هېڅ کله نۀ ختمېږي او تر څو چې د ازل او ابد سلسله قائمه وي نو حسن به په اضافي حېثیت سره په نوي نوي رنګ او شکل کښې ظهور کوي ـ او دغه حسن کتونکي ته هر وخت د حسن یو نوې نوې تماشه کېږي ـ رحمان بابا هم د حسن ارتقائي نظریه لري :

په هر دم کښې نوې نوې تماشه کړم
زۀ رحمان د خدائے و کړو وته حېران یم 13

## جمالیاتي سوز و سرور

د جمالیاتو په اصطلاح کښې د عشق د سرور نه ډک درد ته جمالیاتي سوز و سرور وائي ـ چې د انسان د باطن او زړۀ تزکیه پرې کېږي ـ زړۀ ته پرې راحت ، اطمېنان ، کېف او مستي ، حېرت او استعجاب حاصلېږي ـ په دې درد و سوز کښې د حسن جمالیاتي یخوالے وي ـ چې د ویرې او خفګان اور یخوي ـ که په مغربي جمالیاتو کښې د جمالیاتي مسرت او د ارسطو د کېتهارسس Catharsis تصور شته نو په مشرقي جمالیاتو کښې د مسرت سره سره د جمالیاتي سوز و سرور اصطلاح هم شته ـ چې د "کرون رس" سره ډېر زیات مماثلت لري ـ رحمان بابا د مینې او الفت په درد او غم کښې څومره خوشحالي محسوسوي:

نور عالم که د دنیا په ښادئ ښاد دے
زما زړۀ مدام ښادمن دې ستا په غم وي 14

په جمالیاتي سوز و سرور سره لکه د ګل تازه کېږي او خندېږي ـ

زهٔ د یار په درد و غم کښې شادمان خوښ یم
لکه ګل د پرېشانۍ په وخت خندان یم 15

## حسن همه خېر دے

د یونانیانو د حسن و جمال په باب کښې یوه نظریه دا هم ده چې حسن همه خېر دے او په دې کښې د قباحت او بدرنګۍ هډو ګنجائش نشته ـ که مونږ د یونانیانو دې نقطه نظر ته په ژور نظر اوګورو نو دا حقیقت به برڅېره شي چې واقعي په معنویت کښې هر څهٔ حسن حسن دے ـ د مادي معروضاتو تعلق د ګڼافتونو د دنیا سره وي چرته چې د قبح ، بدرنګۍ او حسن تر مېنځه فرق او بېلتون کېدے شي ځکه چې په ماده شکل و صورت کښې دا فرق کېدے شي خو د معنوي جمال تعلق د غېر مرئي جهان سره وي ـ او هلته په معنٰی او تصور کښې هر څهٔ حسن وي او هم دغه تصور د قرآن کریم هم دے ـ ځکه چې قرآن کریم هر څهٔ حسین او ښکلي ښودلي دي ـ د قرآن پاک ارشاد دے: مفهوم ئې دے چې الله تعالٰی هر څهٔ ښکلي پېدا کړي دي ـ نو په معنویت کښې چې هر څهٔ حسن شو نو دلته د قبح تصور ختم شو ـ رحمان بابا خپل جمالیاتي فکر او نقطه نظر داسې څرګندوي:

چې نظر ئې له صورته په معنٰی کړو
و رحمان و ته یکسان شو زشت و خُوب 16

## د تصوف جمال

د رحمان بابا په کلام کښې د تصوف د جمال ډېر وسعت او فراخي شته دے ـ جمالیاتي حېرت د عرفان حاصلولو د پاره پکارېږي ـ په سالک او صوفي چې کوم حال او واردات راځي په هغې کښې ځنې داسې لمحات وي چې د زړهٔ او نظر د پاره د حسن منزلونه په ګوته کوي ـ جمالیاتي لمحات او انات د خېر و برکت ، فیوضیاتو او د قلب د حسن د پاره لویه سرمایه ده ـ په تصوف کښې د کائناتو مظاهر د الوهي حسن و جمال دپاره یو لویه آئینه تصور کېږي ـ په کثرت کښې د وحدت د حسن جلوې ګټل په معروضي نظریه دلالت کوي ـ خو د حقیقي حسن د مشاهدې بحث هم د تصوف لویه موضوع ګرځي ـ

## جمالياتي حیرت (Aesthetic Wonder)

د حسن انتهاء حېرت دے ـ دا نُور زړهٔ او دماغ د تحير د پاره داسې مقام ته اورسوي چې د هغې چرته تصور هم نهٔ کېږي ـ د تحير حسن "Beauty and Sublime of Wonder" د تحير د جمالياتو لاندې چې کومه بېداري پیدا کوي په دې په بصيرت کښې ژور والے پیدا کېږي او وجدان روښانه کېږي ـ

ريښتينے جمالياتي بصيرت انسان د مطلق حسن ، د کائنات و جمال او د وجود جمال ته بېداروي او هغه د ظلماتو او تيرو نه را اوباسي او نُور او رڼا طرف ته ئې بوځي ـ قرآن کريم کښې الله پاک فرمائي:

"يخرجهم من الظلمات الي النور"

ترجمه: "الله تعالیٰ دوي د تيرو نه رڼا ته را اوباسي" 17

د عشق سره په ګوياۍ باندې حېرت راځي ـ او د خبرو اترو هوش نهٔ پاتې کېږي ـ رحمان بابا حسن و عشق دواړو ته په خپل فکر و نظر او شاعرۍ کښې د غوره جمالياتي اقدارو حېثيت ورکړے دے ـ رحمان بابا د عشق د جمالياتي حېرت ذکر داسې کوي ـ

عاشقي نهٔ ده که ګورې حېراني ده
کوم سړے په دغه کار کښې حېران نهٔ دے 18

چې ئې حسن و ته ګورم حېرانېږم
راځرګنده يوه هسې تماشه شوه 19

تصوف د تحيراتو په جمال او د هغې په ژور رومانيت کښې پیدا شوے دے ـ د تحيراتو د حسن او رومانيت د رسونو نه ئې جمالياتي انبساط حاصل کړے دے ـ د تصوف د اسرار و رموزو په ډوبېدو کښې حېرانتيا نوره هم سېوا کېږي ـ دغه حېرانتيا د معصوميت سطحې ته اورسي ـ همدغه خوږ او زړهٔ راښکونکے معصوميت د تصوف د ټولو نه لويه ورکړه او عطا ده ـ دا هغه د معصوميت سطح ده چرته چې شاعري او د فن جماليات او رومانيت تکميل کېږي ـ همدغه شان فن مذهب

جوړ شي ـ د تصوف دا پیغام دے چې تحیر او ددې جمال خپل مذهب او مسلک جوړ کړئ ـ د والخلق کلهم من نُوري په مصداق د الله پاک د جمال نه د هر څیز پېداوښت شوے دے ـ الله پاک د تحیراتو او د هغې د جمال مرکز او سرچینه ده ـ تاسو صرف حېرانتیا او د هغې حسن د خپل نظر د پاره په یو اړخ او جهت جوړ کړئ ـ د مذهب او تصوف د روح او د هغې د جلوؤ کتلو او د معصومیت په مقام د هغې د محسوس کولو د پاره یو ځل بیا د ماشومانو په شان په حېرت سره کتلو او اخوا دېخوا نظر اړولو واله سترګو ضرورت دے ـ تصوف هغه نظر غواړي چې په قطره کښې سمندر اووینې او هغه بصیرت غواړي چې په هره ذره کښې نمر اوومي ـ

## جمالیاتي آن او لمحه

د سلوک او عرفان زیات تعلق د باطني کېفیاتو او قلبي وارداتو سره وي ـ د نفس په تزکیه او پاکوالي سره کله کله په سالک باندې داسې لمحات او کېفیات ورود کوي ـ چې د زړهٔ دنیا ئې پرې ډېره زیاته روښانه او منوره شي ـ روحاني او جمالیاتي انبساط اوومي ـ دغه جمالیاتي لمحه د روحاني قوت د غالب کېدو او د نفس د مغلوب کېدو په وخت کښې رائحي ـ او د انسان د پاره د خېر و برکت او فېوضیاتو یو سمندر په چپو شي ـ د حقیقي حسن په ذکر او ستائینې سره او د حسن و محبت د خاوندانو په محفل کښې د جمالیاتي لمحاتو د پېدا کېدو ډېر زیات امکان وي ـ رحمان بابا د دغه جمالیاتي آن او لمحې تجربه حاصله کړې ده او وائي:

په وصال ئې منت بار اوسه رحمانه
په صدف کښې دخل نهٔ وي د ګوهر بیا 20

## شانت رس

شانت رس د مشرقي جمالیاتو د "رس" د نظرئې سره تعلق لري او ددې نه مراد هغه طمانیت او اطمېنان دے کوم چې د روحانیت (موکش) د جذبې نه حاصلېږي ـ د صوفیانو په محفل کښې کښېناستل ، د پیر مرشد تعلیم ، د تصوف د کتابونو مطالعه ، د "شانت رس" د پېدا کېدلو محرکات او

اسباب دي ـ رحمان بابا چې کوم شانت رس او جمالياتي طمانيت د خپلو سترګو او زړۀ روښنائي ګڼي نو هغه د حسن مطلق د حسن مشاهده کول دي ـ

روښنائي مې د چشمانو ستا ديدن دے
په دا کور کښې بل چراغ و مشال نشته 21

او د حسن په انواراتو کښې کله کله داسې مستغرق شي چې د ځان د حاله هم نۀ خبرېږي ـ دغه روحاني او جمالياتي طمانيت داسې څرګندوي:

هېڅ په سترګو نۀ وينم دا خپل صورت مې کوم دے
ډوب تر هسې حده په انوار يم ستا د مخ 22

## په کثرت کښې د وحدت حسن

د کائناتو په مجازي او ظاهري معروضاتو کښې د ازلي حسن ځلق او پړق په نظر راځي ـ دا کائنات د يو وجود "حقيقي حسن" اعتباري مظاهر دي ـ مطلق حسن د لاهوت نه په ناسوت او مادي څيزونو کښې خپلې نُوراني جلوې څرګندوي ـ ځکه چې د کائنات ټول څيزونه د نُور مطلق تجليات او اعتباري مظاهر دي ـ

په کثرت کښې د وحدت د جمال په لټون کښې رحمان بابا هر يو څيز ته په حېرت ګوري او د جمال مشاهده ئې کوي ـ

دا زما د يار جلوه ده چې ليدۀ شي
لکه نمر په صومعه په سومنات 23

رحمان بابا د ازلي حسن په کثرت کښې ، صفاتو کښې ، د جدا جدا جلوؤ او تجلياتو مشاهده کوي ـ او د حېرت عالم پرې طاري کېږي ـ

د پتنګ او د بلبل تر میان حېران یم
څ دې اور دے که ګلګون دے نهٔ پوهېږم 24

هم هغه یو حسن دے پتنګ ته د شمعې په لمبو کښې ځان ښکاره کوي ـ او بلبل ته په ګلونو کښې ځان څرګندوي ـ د چا د پاره د جلال رنګ او جلوه جوړه شي او د چا پاره د جمال رنګ او جلوه جوړه شي ـ

دوارو عاشقانو ته په خپل خپل ځاے کېف و سرور ملاوېږي که یو ئې په عشق کښې د جلال مشاهده کوي نو هغه ځانله ښائست دے ـ او که بل ئې د جلال ننداره کوي نو هغه ئې ځانله د لطف و کرم ښائست دے ـ

## جمالیاتي مشاهدات

د ظاهري حواسو په ذریعه چې د ښکلا کومې مشاهدې کولے شي نو هغې ته حسي جمالیاتي مشاهدات وائي ـ د ښکلا په ادراک کښې پنځهٔ واړه حواس برخه اخلي ـ خو د حِس باصره او حِس سامعه کردار د نورو نه زیات دے ـ د حسن پنځهٔ قسمه مشاهدې کېدے شي ـ بصري ، سمعي ، مشامي ، ذوقي ، او لمسي مشاهده ـ د رحمان بابا د جمالیاتو مشاهداتو دائره ډېره فراخه ده ـ د ډېرو حواسو په ذریعه د حسن نه خوندونه اخلي ـ

## مشامي مشاهده

د حِس شامې په ذریعه د حسن مشاهده کوي په خوب کښې په لا شعور کښې ئې دومره اثر وي چې ټوله شپه وربادې د مښک و عنبرو باران ورېږي ـ

زهٔ چې زلفې د یار اووینم په خوب کښې
په شپه مښک راباندې اووري تر صباحه 25

## ذوقي مشاهده

د ذائقې د حِس په ذريعه چې کومه مشاهده کوي هغه داسې بيانوي :

هسې مست يم ستا د شونډو په شراب
چې به نۀ وي بل د اهسې مست خراب 26

## بصري مشاهده

رحمان بابا بصري مشاهده داسې بيانوي :

چې د مخ و آب و تاب ته ئې نظر کړم
راته هېڅ شي د ګلونو آب و تاب 27

## جمالياتي باطني مشاهده

د مغرب د جمالياتو فلسفيان صرف د حِسي مشاهدې قائل دي ـ او ددې لوے سبب دا دے چې دوي په ظاهري او مادي حواسو يقين لري ـ او د ما ورائي ، مابعد الطبيعاتي او روحاني دنيا نه ناخبره دي ـ او د روحاني جمالياتي مشاهدې نه هم ناخبره دي ـ او حال دا دے چې مشاهده يوائې حِسي نۀ وي ـ چې صرف په ظاهري حواس خمسه سره کېږي بلکې مشاهده روحاني هم وي ـ

ماده پرست دانشور د عقل او منطق په ګرداب کښې انښتي د روحانيت او نُورانيت د دنيا نه ناخبره د روحاني مشاهدې نه منکر دي ـ او حال دا دے چې د دنيا ډېر صوفيان او بزرګان همېشه د روحاني مشاهداتو او تجرباتو نه تېر شوي دي ـ په باطني جمالياتي مشاهدې سره د جمالياتي تاثير سره زړۀ ته راحت ، کېف و سرور او جمالياتي انبساط حاصلېږي ـ د حقيقي حسن د جمالياتي مشاهدې په باب کښې د رحمان بابا نقطه نظر دا دے چې ددغه حسن د حجاباتو او نقابونو نه بغېر هم مشاهده کېدے شي ـ ځکه چې حسن خپل ظهور غواړي او پټ نۀ شي پاتې کېدے ـ

دا حجاب چې نور عالم ئې حجاب بولي
دا زما د يار تر مېنځه حجاب نۀ دے 28

په صوفي چې د حسنِ مطلق د کامل ادراک او مشاهدې نه پس کوم کېفيت طاري کېږي منصوري او سرمدي رنګ پرې خورېږي او د نُور په سمندر کښې ډوبېږي نو بيا ورته د خپلې بې خودۍ روحاني مستۍ او سرشارۍ له کبله د خپل ځان هم پته نۀ لګي ـ رحمان بابا دغه صوفيانه او جمالياتي واردات داسې بيانوي:

هېڅ په سترګو نۀ وينم دا خپل صورت مې کوم دے
ډوب تر هسې حده په انوار يم ستا د مخ 29

کله چې انسان د "تخلقو باخلاق الله" په حديث عمل اوکړي خداوندي اخلاق خپل کړي ، نو بيا په هغۀ خدائي رنګ خور شي او د "صبغة الله" په مصداق په خپل زړۀ او روح کښې د الوهي حسن پلوشې او تجليات اووينې او د زړۀ او روح آئينه ئې جمالياتي حېرت اوومي ځکه رحمان بابا فرمائي:

چې مې ستا د جمال عکس دے ليدلے په خپل ځان کښې
هم په دا د آئينې غوندې حېران دے زما روح 30

## ماخذونه


۱: رسا ، رسول ، رحمان بابا ديوان ، يونيورسټي بُک اېجنسي پېښور ،مخ نمبر ، ۲۸، ۱۹۷۶ء

۲: همدغه اثر ، مخ نمبر ، ۸۳

۳: همدغه اثر ، مخ نمبر ، ۱۴۱

۴: همدغه اثر ، مخ نمبر ، ۹۷

۵: همدغه اثر ، مخ نمبر ، ۹۷

۶: همدغه اثر ، مخ نمبر ، ۱۲۸

۷: همدغه اثر ، مخ نمبر ، ۵۰

۸: همدغه اثر ، مخ نمبر ، ۱۲۳

۹: همدغه اثر ، مخ نمبر ، ۱۲۳

۱۰: همدغه اثر ، مخ نمبر ، ۱۲۳
۱۱: همدغه اثر ، مخ نمبر ، ۱۵
۱۲: همدغه اثر ، مخ نمبر
۱۳: همدغه اثر ، مخ نمبر
۱۴: همدغه اثر ، مخ نمبر ، ۹۱
۱۵: همدغه اثر ، مخ نمبر ، ۱۸۱
۱۶: همدغه اثر ، مخ نمبر ، ۲۴
۱۷: القرآن الکریم ، سورة بقره، آیت نمبر ۳۵۷
۱۸: همدغه اثر ، مخ نمبر ، ۸۸
۱۹: همدغه اثر ، مخ نمبر ، ۲۰۳
۲۰: همدغه اثر ، مخ نمبر ، ۱۷
۲۱: همدغه اثر ، مخ نمبر ، ۱۲۸
۲۲: همدغه اثر ، مخ نمبر ، ۱۳۲
۲۳: همدغه اثر ، مخ نمبر ، ۲۵
۲۴: همدغه اثر ، مخ نمبر ، ۱۸۴
۲۵: همدغه اثر ، مخ نمبر ، ۲۸
۲۶: همدغه اثر ، مخ نمبر ، ۲۲
۲۷: همدغه اثر ، مخ نمبر ، ۲۲
۲۸: همدغه اثر ، مخ نمبر ، ۹۰
۲۹: همدغه اثر ، مخ نمبر ، ۱۳۲
۳۰: همدغه اثر ، مخ نمبر ، ۱۳۱